مجله علمی سلام

Salam Academic Journal

*Journal Homepage:* https://www.resaearch.salam.edu.af

سال هشتم، دور دوم، شماره ۳، بهار ۱۴۰۲هـ.ش

# په اوسنيو حالاتو کې د افغانستان د بهرني اړيکو اړوند لومړيتوبونه

# Priorities Related to Afghanistan's Foreign Relations in the Current Situation

DOI: 10.64104/Second Round.Issue No 3.n1.2023

پوهنوال دکتور مصباح الله عبدالباقي[1]، استاد نصیر احمد نویدی[2]

ORCID: https://orcid.org/0009-0004-4224-2339

## لنډيز

په دې لنډه مقاله کې د دې هڅه شوې چې په اوسنيو حالاتو کې د افغانستان د بهرني سياست اړوند لومړيتوبونه وڅېړل شي، او په لنډ ډول د يوې طرحې په توګه واکمنانو ته وړاندې کړې شي، د بهرنيو اړيکو اړوند لومړيتوبونه څو ډول دي، لومړی يې د بهرنيو اړيکو د اهدافو او موخو اړوند لومړيتوبونه دي، دويم يې د بهرنيو اړيکو د رامنځته کولو اړوند لومړيتوبونه دي، او درېم يې د نورې نړۍ سره د اسلامي امارت د مثبتې ښکېلتيا اړوند لومړيتوبونه دي.

په لومړۍ برخه کې د بهرنيو اړيکو د موخو او اهدافو اړوند لومړيتوبونه څېړل شوي، او دا تر ټولو مهم لومړيتوبونه ځکه دي چې دا د افغانستان د بهرني سياست سمت ټاکي، او هغه قبله ورته مشخصه کوي چې دا اړيکې بايد د هغه په لور ولاړې شي، په دې لړ کې ډېر په لنډ ډول د مشخصو نکتو په شکل د دې لومړيتوبونو يادونه شوې ده، او غوښتنه مو دا ده چې د هېواد ټولې سياسي نماينده ګۍ بايد دا لومړيتوبونه په نظر کې وساتي.

له دې وروسته په مقاله کې د بهرنيو اړيکو د رامنځته کولو اړوند لومړيتوبونه په ګوته شوي، په دې اړه پنځه لومړيتوبونه په ګوته شوي چې د (د بهرنيو اړيکو په اړه د اسلامي امارت د مشرانو ترمنځ د عامې همغږۍ اړتيا) او ( د بهرنيو اړيکو او نورو ګامونو ترمنځ د شرعي موازناتو او لومړيتوبونو په نظر کې نيول) او (د شکلي اړيکو پر ځای د اعتماد فضاء رامنځته کولو) او (د خپل مصداقيت د ساتلو) او (د متوازنو اړيکو يا بې پرې سياست خپلولو) څخه عبارت دی.

ISSN: 3078-9583 (Online)    ISSN: 3078-9575 (Print)

تاریخ نشر: ۱۴۰۲/۰۵/۱۵    تعداد صفحات: ۲۱    از ۱۱ تا ۳۱

[1]. د شرعياتو د پوهنځي د علمی کدر غړی او د سلام پوهنتون رئيس، +93771694474، Misbah.abdulbaqi@gmail.com

[2]. د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي د علمي کدر غړی او د سلام پوهنتون د تحقيقاتو د مرکز رئيس، nnawidy@gmail.com

د مقالې په اخیرنۍ برخه کې د نورو هېوادونو سره د اسلامي امارت د مثبتې ښکېلتیا اړوند لومړیتوبونه څېړل شوي، او دا په ګوته شوي چې اسلامي امارت د اړیکو د رامنځته کولو او نورو هېوادونو سره د ښکېلتیا ډېر مهم مسایل د ځان سره لري، چې په دې اړه باید لاندې قضیو ته لومړیتوب ورکړي: (سیمه ییز اتصال) (متقابلې اقتصادي ګټې) (د اوبو اړوند قضیې) (د بهرنیو مسلحو جهادي ګروپونو او امنیت اړوند قضیې) (د نړیوالې اجنډا د نه درلودلو په اړه ډاډ ورکول) (د سرحدونو لانجې) (غیر قانوني هجرتونه) او داسې نور شامل دي، د دې لومړیتوبونو په نظر کې نیولو سره موږ د نړۍ ډېر هېوادونه په مثبت ډول د ځان سره په اړیکو کې ښکېل کولی شو.

که دا لومړیتوبونه په ټولو مراحلو کې رعایت شي، په اوسنیو حالاتو کې د افغانستان نړیوالې اړیکې پر مستحکمو بنسټونو دربدلی شي، خو که دا لومړیتوبونه رعایت نه کړای شي نو بیا د کامیابو بهرنیو اړیکو توقع درلودل به د خیال څخه پرته بل څه نه وي.

**کلیدي کلیمې: افغانستان، بهرني سیاست، خپلواکی ساتنه، اړوند لومړیتوبونه، د شرعي موازناتو**

## سریزه

الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين وعلى آله و أصحابه أجمعين، وبعد.

### د موضوع اهمیت

د یو هېواد لپاره بهرنۍ اړیکې حیاتي ارزښت لري، هیڅ هېواد له دې اړیکو پرته خپل عادي ژوند پرمخ نه شي وړی، ځکه چې هیڅ یو هېواد هم خپلې ټولې اړتیاوې په ځانته ځان نه شي پوره کولی، نو په دې اړه په نورو هېوادونو باندې اعتماد کولو ته اړ کېږي، همدا راز د سولې او امنیت اړوند مسایل د جرایمو اړوند قضیې، د اقتصاد او سوداګرۍ ، پانګونې، د هجرتونو او سفرونو، کلتوري اړیکو او نورو ډېرو مسایلو لپاره هر هېواد نورو هېوادونو سره اړیکو ته اړتیا لري.

دا اړیکې د ټولو هېوادونو لپاره اړینې دي، خو په دې اړه د هېوادونو لومړیتوبونه توپیر لري، د یو چا لپاره به په یو وخت کې یو لړ قضیې مهمې وي او د بل هېواد لپاره به نورې قضیې مهمې وي، له همدې امله دا لومړیتوبونه د یو وخت څخه بل وخت ته او د یو هېواد څخه بل هېواد ته متفاوت وي، که موږ په اوس مهال کې د خپلو بهرنیو اړیکو د مقاصدو او بنسټیزو اهدافو اړوند لومړیتوبونه وټاکو، او د دې اړیکو د پیاوړتیا او رامنځته کېدو اړوند لومړیتوبونه مشخص کړو، او دا وټاکلې شو چې موږ باید نور هېوادونه د کومو لومړیتوبونو پر بنسټ د ځان سره په مثبت ډول ښکېل کړو، نو کېدای شي چې موږ د خپلو بهرنیو اړیکو لپاره ښه بنسټونه برابر کړی شو، چې په دې لیکنه د همدې لومړیتوبونو په اړه وړاندیزونه شوي دي.

دا خو څرګنده خبره ده چې د افغانستان لپاره بهرنۍ اړیکې د تاریخ په دې پړاو کې خورا مهمې او بنسټیزې دي، او دا هم مهمه خبره ده چې دا اړیکې په سم لور حرکت وکړي، نو له دې امله په دې اړه لومړیتوبونه ټاکل هم اړین دي، تر څو د دې لومړیتوبونو په نتیجه کې د دې اړیکو په رامنځته کولو او صحیح لور حرکت ورکولو کې موږ سره مرسته کوي.

### د دې لیکنې بنسټیزه موخه

په اوس مهال کې افغانستان د بهرنیو اړیکو پراختیا او استحکام ته اړتیا لري، خو په عملي توګه د نظام د بدلون څخه دوه کاله وروسته هم دا اړیکې په ډېر ښه حالت کې قرار نه لري، د دې اړیکو د پراختیا په مخ کې کوم خنډونه پراته دي، د دې په ګوته کول او په عملي توګه له منځه وړل د دې څېړنې لومړۍ موخه ده.

د بهرنیو هېوادونو سره د اړیکو په مخ کې پراته خنډونه په دوه ډوله دي، لومړی هغه خنډونه دي چې د افغانستان د داخلي سیاستونو سره تړاو لري، او دویم هغه خنډونه دي چې په ظالمانه ډول د نورو هېوادونو له لورې اعمال کېږي، کوم خنډونه چې زموږ د داخلي سیاست سره تړاو لري د هغوی لرې کول او له منځه وړل به د نړۍ با انصافه خلک دې ته اړ کړي چې د ظالمو ښکېلاکګرو هېوادونو په مقابل کې د افغانستان سره ودرېږي، او دریغ یې تأیید کړي، له دې امله دا خنډونه له منځه وړل (چې په له منځه وړلو کې یې د اسلام د ثوابتو څخه هيڅ ډول تنازل نشته) د هېواد د تاریخ په دې پړاو کې د هېواد لپاره ډېر اړین دي.

په عامه توګه دا فکر کېږي چې د یو هېواد بهرنی سیاست د بهرنیو هېوادونو سره د اړیکو پر محور را څرخېږي، مګر د نړۍ محترم هېوادونه په بهر کې د خپلو مېشتو اتباعو مسایل هم د خپلو بهرنیو اړیکو یو بنسټیز محور ګڼي، او په دې کار سره د ملت جوړنې پروسه پرمخ وړي، موږ هم د تاریخ په دې پړاو کې چې یو لوی شمېر هېوادوال مو په بهر کې ژوند کوي، دې ته اړتیا لرو چې د هر ډول تبعیض څخه پرته د هغوی مسایلو ته ځان ورسوو، او د حل کولو کوښښ یې وکړو، او د ملت ترمنځ د اعتماد جوړونې پروسه پرمخ یوسو، په دې څېړنه کې دا هم د یوې بنسټیزې موخې په توګه وړاندې شوی ده.

د دې ترڅنګ د ډېرو هېوادونو سفارتونه او سیاسي نمایندګۍ یوازې نمایشي بڼه لري، خو موږ باید د دوی لپاره خپل ځانګړي اهداف ولرو، او دا باید زموږ د لومړیتوبونو پر بنسټ ټاکل شوي وي، دا لومړیتوبونه څه کېدلی شي، په دې اړه هم په دې څېړنه کې وړاندیزونه شوي دي.

**د څېړنې میتود او د بحث تشه**

د دې څېړنې له لارې د افغانستان د بهرنیو اړیکو د اوسني وضعیت تحلیل وړاندې شوی، او دا خو یو څرګند حقیقت دی چې د وضعیت پېژندنه او د هغه تحلیل او د هغه اړوند وړاندیزونه وړاندې کول تر ډېره حده ابتکاري بڼه لري، او د موضوع په اړه د لیکوال پر خپل تحلیل باندې ولاړ وي، نو له دې امله چې دا څېړنه ابتکاري ده او په دې اړه مخکې ډېر څه نه دي لیکل شوي، نو له همدې امله هغه مراجع او مصادر هم ډېر کم دي چې په دې څېړنه کې ورته مراجعه شوی وي، په بل عبارت د لیکنې طبیعت د دې غوښتنه نه کوي چې د مراجعو او مصادرو څخه دې په کې استفاده وشي.

له بل پلوه دا څېړنه یوه وصفي او تحلیلي څېړنه ده، د بېلابېلو لومړیتوبونو اړوند چې کوم وړاندیزونه په دې څېړنه کې شوي دي دا د وضعیت په توصیف باندې بنا دي، چې د هغه یادونه له دې امله دلته نه ده شوې چې له یوې خوا ټولو ته څرګند دی، او له بل اړخه د مقالې د اوږدېدو لامل ګرځېده، له دې وروسته چې کوم لومړیتوبونه ټاکل شوي او وړاندې شوي دي د وضعیت د توصیف په تحلیل باندې بنا دی، په دې معنی چې د بهرنیو اړیکو له پلوه د افغانستان اوسنی حالت په مطلوبه مستوی کې قرار نه لري، دا حالت بدلون ته اړتیا لري، نو که په دې حالت کې مثبت بدلون غواړو نو باید د دې اړیکو اړوند بېلابېلو اړخونو کې لومړیتوبونه وټاکو او په عمل کې یې د پیاده کولو کوښښ وکړو، پر همدې بنسټ د بهرنیو اړیکو د موخو اړوند لومړیتوبونه ټاکل شوي، همدا راز د بهرنیو اړیکو د پیاوړتیا اړوند لومړیتوبونه ټاکل شوي، او بیا د اسلامي امارت له لورې د نورو هېوادونو سره د مثبتې ښکېلتیا لپاره لومړیتوبونه ټاکل شوي دي.

**د څېړنې تنظیم او ترتیب**

څېړنه په لاندې درېو بنسټیزو برخو ویشل شوی ده: لومړۍ برخه یې د بهرني سیاست او د بهرنیو اړیکو د موخو او اهدافو

اړوند لومړيتوبونه څېړي، په دې ترکيز کوي چې په دې اړخ کې د اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت څه په پام کې بايد ولري، او څه ته بايد لومړيتوب ورکړي.

دويمه برخه د بهرنيو اړيکو د رامنځته کولو اړوند لومړيتوبونه را په گوته کوي، او په دې اړه بحث کوي چې د دوه کلونو په تېرېدو سره هم اسلامي امارت د بهرنيو اړيکو د غښتلتيا مطلوبې مرحلې ته و نه رسېده، د افغانستان اسلامي امارت څه شيان د لومړيتوبونو په توگه په نظر کې بايد ونيسي چې دا اړيکې پياوړې او غښتلې شي، په دې اړه ډېرو مهمو قضيو ته اشاره شوی، چې لنډيز يې دا دی چې د هر هېواد بهرنۍ اړيکې تل د هغه هېواد د داخلي سياست او د داخلي سياست د ترسيمونکو ادارو او شخصيتونو د نظرياتو څخه اغېزمن کېږي، له دې څخه د افغانستان اسلامي امارت هم مستثنی نه دی، نو که موږ غواړو چې پياوړې بهرنۍ اړيکې ولرو (چې دا يو داسې اړتيا ده چې له دې پرته د يو هېواد لپاره په امن او استقرار کې پاتې کېدل ممکن نه دي) نو بيا دې ته اړتيا لرو چې د داخلي سياست په يو لړ قضيو بيا کتنه وکړی شي، او په دې اړه يوه عمومي همغږي رامنځته کړی شي.

درېمه برخه له دې څخه بحث کوي چې د افغانستان اسلامي امارت داسې څه مسايل د ځان سره لري چې نور هېوادونه د ځان سره په مثبتو اړيکو کې را ښکېل کړي؟ څېړنه وايي چې بلې! اسلامي امارت ډېر داسې مسايل لري چې د نورو هېوادونو لپاره د اهميت درلودونکي دي، که اسلامي امارت په دې اړه خپل لومړيتوبونه وټاکي نو له دې څخه به ځان وساتلی شي چې نور هېوادونه يې داسې څه ته اړ کړي چې د هېواد د گټو سره به اړخ نه لگوي، نو په دې اړه هم لومړيتوبونو ټاکلو ته اړتيا ده، او په دې برخه کې د دې لومړيتوبونو څخه يو شمېر د نمونې په توگه وړاندې شوي دي، چې نور يې بايد د ملت مشرانو او پوهانو ترمنځ د مناقشو او بحثونو له لارې مشخص کړی شي.

د الله تعالی څخه دعا کوم چې دا څېړنه د دې لامل وگرځوي چې موږ خپل هېواد د اسلام د درست فهم سره سم د امن، استقرار او پرمختگ لوړو پړاوونو ته ورسوو.

وسبحانك اللهم وبحمدك نشهد أن لا إله إلا أنت نستغفرك ونتوب إليك.

**اولا: د بهرنيو اړيکو د موخو او اهدافو اړوند لومړيتوبونه**

د بهرنيو اړيکو موخې او اهداف له يو هېواد څخه بل هېواد ته او له يو وخت څخه بل وخت توپير مومي، په اوسمهال کې د اسلامي امارت د بهرنيو اړيکو موخې او اهداف څه کېدلی شي؟ دا خو يو لوی سوال دی، په دې اړه خو په کار دا ده چې د بهرنيو چارو د وزارت او يا هم د کوم بل جهت له لورې د هېواد د اهل نظر او تخصص درلودونکو وگړو څخه نظر واخيستل شي او بيا په دې اړه پاليسي وټاکل شي، او لومړيتوبونه مشخص کړی شي، خو زما په نظر په اوسنيو ظروفو او حالاتو کې د هېواد د بهرنيو اړيکو بنسټيز اهداف لاندې کېدلی شي، چې د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت يې بايد د لاسته راوړلو لپاره هلې ځلې وکړي:

1. د هېواد د ځمکنۍ بشپړتيا او خپلواکۍ ساتنه، او په بهر کې په ټولو فورمونو کې د هيواد د اسلامي حيثيت مؤثر استازيتوب کول.
2. د هېواد په اقتصادي پياوړتيا کې مرسته او همکاري.
3. امنيت او سوله؛ په دې معنی چې موږ د خپل هېواد امنيت ته رامخته کېدونکي گواښونه د مثبتو بهرنيو اړيکو له لارې دفعه کړو، همدا راز د نړۍ او سيمې هېوادونو ته د دې ډاډ ورکړو چې افغانستان به د هيڅ هېواد امنيت ته

گوابن نه متوجه کوي او د نورو څخه هم هیله لرو چې زموږ امنیت ته گوابن جوړ نه کړي.

4. د افغانستان او گاونډیو هېوادنو ترمنځ د موجوده شخړو سره داسې تعامل کول چې که شخړې پر خپل حال پاتې هم شي خو چې د اړیکو د خرابېدو او د ستونزو د رامنځته کېدو لامل و نه گرځي.
5. د سیمې او گاونډیو هېوادونو سره داسې پیاوړې سیاسي او اقتصادي اړیکې رامنځته کول چې افغانستان په سیمه کې د اتصال نکته وگرځي، او په دې توگه د «قلب آسیا» په حیث چې د کوم غیر معمولي جیوپولیتیکي حیثیت څخه برخمن دی، د دې مرکزیت څخه اعظمي استفاده وشي.
6. د اسلامي نړۍ سره دیني، علمي، کلتوري او سیاسي اړیکو ته وده ورکول، او د نړۍ د ټولو هېوادونو، نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو سره کلتوري، بشري، سیاسي او د هر ډول اړیکو د پیاوړتیا له لارې د هېواد مؤثریت لا زیاتول.
7. د هېواد څخه بهر مېشتو افغانانو سره اړیکو ته پراختیا ورکول، او د دوی ترمنځ د داسې فعالیتونو د مخنیوي هڅې کول چې د هېواد او هېوادوالو د بدنامۍ لامل گرځي، د بهر میشتو افغانانو د حیثیت او انساني کرامت څخه دفاع کول، د افغاني پاسپورت د حیثیت ساتنه او له دې حیثیت څخه دفاع کول.
8. د بهر مېشتو افغانانو مرسته او د هغوی د عزت او حیثیت ساتنه باید د بهرني سیاست د لومړیتوبونو څخه وشمېرل شي، د افغانستان سیاسي نماینده گۍ او سفارتونه باید په هغه هېوادونو کې افغانان پر ځان راټول او هلته مېشت افغانان یې خپل کور وگڼي.
9. د افغانانو لپاره د سفر د اسانتیاو، د ویزو د ترلاسه کولو او سوداگریزو معاملاتو اسانتیا باید د دیپلوماسۍ یو لومړیتوب وي، همدا رنگه داسې گامونه پورته کول چې په نړۍ کې د افغانستان د پاسپورټ حیثیت او احترام لوړ کړي باید د بهرنۍ دیپلوماسۍ یوه هدف وي.
10. د تعلیمي فرصتونو برابرول او د علمي کادرونو او شخصیتونو د روزلو لپاره اسانتیاوی برابرول باید د بهرنیو اړیکو یو لومړیتوب وي.

د بهرنیو اړیکو د لومړیتوبونو د ټاکلو په وخت کې باید دا په نظر کې ونیول شي چې له دې لارې بېلا بېلو جهتونو او اړخونو ته پیغام ورکړل شي، د بیلگې په توگه له دې لارې هغه هېوادونو ته باید پیغام ورکړ شي چې غواړي د تهدیدونو او تجاوزونو له لارې افغانستان تر اغېز لاندې ولري، دا هېوادونه باید پیغام تر لاسه کړي چې نور د دې وخت تللی دی چې څوک افغانستان د زور له لارې تر اغېز لاندې راولي، همدا راز هغه هېوادونه چې غواړي د افغانستان سره ښه، مثبتې او د متقابل احترام پر بنسټ ولاړې اړیکې ولري له دې لارې مثبت پیغام تر لاسه کړي، او تر څنگ یې خپلو هېوادوالو ته هم ډاډ ورکړ شي چې په بهر کې د خپلو هېوادوالو روا گټې ساتل او د هغوی څخه دفاع کول د اسلامي امارت مسؤولیت دی چې د بهرنیو چارو وزارت یې په خپلو لومړیتوبونو کې شمېري، په دې لړ کې لاندې تفصیلي قضیې باید په نظر کې ونیول شي:

لومړی: بهرنۍ اړیکې د افغانستان د خپلواکۍ او اسلامي حیثیت د خوندیتوب وسیله ده، او دې اړیکو ته باید مسؤولین په همدې سترگه وگوري.

دویم: دا د افغانستان د هر ډول جایزو ګټو د خوندي کولو او لاس ته راوړلو تر ټولو مؤثره وسیله ده، او د همدې لپاره باید ترې ګټه پورته کړی شي.

دریم: له دې لارې باید د نړۍ هېوادونو او سیمه ییزو قوتونو ته پیغام ورکړل شي چې افغانستان د هیڅ چا لپاره تهدید نه دی خو دا چې د چا له لورې د تهدید سره مخ شي، افغانستان سیمه ییز او نړیوال امنیت ته ډېر اهمیت ورکوي، او په دې لړ کې د خبرو اترو او تفاهم له لارې د هر هېواد د تشویشونو د رفع کولو لپاره اماده دی.

څلورم: له دې لارې باید ملت ته د دې ډاډ ورکړ شي چې د بهرنیو چارو وزارت او په بهرنیو هېوادونو کې د افغانستان سفارتونه او نماینده ګۍ دنده لري چې د افغانستان د اتباعو د حقوقو او انساني کرامت څخه دفاع وکړي، د افغاني پاسپورټ حیثیت وساتي، او په دې اړه هر راز هلې ځلې خپل مسؤولیت ګڼي.

که په دې توګه موږ د بهرنیو اړیکو لپاره د موخو او اهدافو اړوند لومړیتوبونه وټاکل او په مؤثره توګه مو د هغو نماینده ګیو او سفارتونو څخه استفاده وکړه چې هېواد یې په واک کې لري نو موږ به تر ډېره حده د هېواد ګټې خوندي کړي وي او هغه اهداف به مو لاس ته راوړي وي چې په دې شرایطو کې یې ملت د هېواد د بهرنیو چارو د وزارت څخه لري، خو اوس سوال دا را ولاړېږي چې موږ څرنګه کولی شو چې لومړی دا اړیکې رامنځته کړو، او بیا هغه کوم تفصیلي ګامونه دي چې په دې لار کې باید واخیستل شي، لاندې کرښې همدې سوالونو ته د ځواب لټولو لپاره لیکل شوي دي.

**ثانیا: د اړیکو د رامنځته کولو او پیاوړي کولو اړوند لومړیتوبونه**

دا یو منل شوی حقیقت دی چې بهرنی سیاست او بهرنۍ اړیکې هغه وخت په سم ډول تنظیمېدلی شي چې د کور دننه سیاست په سم ډول عیار شوی وي، او په هېواد کې دننه هغه حالت رامنځته کړی شوی وي چې د بهرنیو هېوادونو او سازمانونو د اعتماد وسیله وګرځي، هغه جوړښتونه رامنځته کړی شوی وي چې د خپل برخلیک په ټاکلو او مخته وړلو کې د ملت ګډون یقیني کوي، قانوني خلا ګانې وجود و نه لري، او ټول بهرني هېوادونه په دې یقین وکړي چې هغوی د حاکم نظام د استازو له لارې د ټول ملت سره تعامل کوي، او کومې ژمنې چې کوي او یا ورسره کېږي هغه د ټول ملت سره ژمنې دي، دا د بهرنیو اړیکو د رغولو لپاره لومړی شرط دی، له دې پرته د بهرنیو اړیکو رغول ممکن نه دي، نو له هر څه د مخه د خپل کورني سیاست د سمولو لپاره جدي ګامونه پورته کول په کار دي.

او د بهرنیو اړیکو د اهمیت په اړه د اسلامي امارت د مسؤولینو ترمنځ د شریعت د مقاصدو او د لومړیتوبونو او موازناتو فقهي اصولو ته په کتو او د السیاسة الشریعة (مصالحو او مفاسدو) د اصولو سره سم یو اصولي او علمي بحث په لاره اچول پکار دي، د دې بحث او مناقشې په پایله کې باید مسؤولین د کورنیو چارو د سمون په لړ کې په لاندې څو ټکو اتفاق ته ورسېږي، ځکه د کور دننه حالات جوړول د بهرنیو اړیکو لپاره بنسټ برابروي:

**لومړی: د بهرنیو اړیکو د اهمیت په اړه عمومي همغږي**

د بهرنیو اړیکو په اړه باید د اسلامي امارت د قیادت په کچه یوه عمومي همغږي رامنځته شي، دې قضیې ته باید په مثبت نظر وکتل شي، دې ته یوازې په دې نظر و نه کتل شي چې د دې په پایله کې موږ د خپلو اهدافو څخه تنازل ته اړ کېږو، او یا دا چې له دې امله موږ د محدودیتونو لاندې راځو، بلکې په دې اړه هغه مقاصدو ته وکتل شي چې د ښو بهرنیو اړیکو په پایله کې یې موږ لاس ته راوړلی شو، دې اړیکو ته د هغه اړتیاو او ضرورتونو په رڼا کې کتل پکار دي چې د دې اړیکو په پایله کې ورته هېواد او ملت لاس رسی پیدا کولی شي.

د همدې مناقشې په پایله کې باید د اسلامي امارت د مشرانو له نظره د بهرنیو اړیکو د لومړیتوب کچه هم مشخصه کړی شي، په دې معنی چې کله د دې اړیکو د پیاوړتیا او څه نورو اهدافو ترمنځ تعارض واقع شي نو کوم یو ته باید د شرعي او فقهي قواعدو په رڼا کې ترجیح ورکړی شي، او دا چې که دا اړیکې د کور دننه سیاست کې د څه بدلونونو غوښتنه کوي نو کوم یو ته باید ترجیح ورکړی شي؟ دا بدلونونه ومنل شي چې پرې لویې ګټې ولاړې دي او که یوازې د دې بهانې له امله و نه منل شي چې نور خلک یې له موږ څخه غوښتنه کوي؟

که دا لومړیتوبونه مشخص نه کړی شي او د نظام دننه یو اړخ د کورنیو چارو د رغولو په مخ کې خنډ ګرځي او په هغه څه اصرار کوي چې د اړیکو د له منځه تللو لامل ګرځي، او د بهرنیو چارو وزارت یې د رغولو هڅې کوي، په داسې حالت کې به موږ هیڅکله پیاوړې بهرنۍ اړیکې ونه لرو، ځکه داسې نه شي کېدلی چې یو جهت (د بهرنیو چارو وزارت) د دې اړیکو د رغولو لپاره هڅې وکړي او نور یې د له منځه وړلو او ورانولو لپار لاس په کار وي، ځکه د بهرنیو چارو وزارت د کور دننه د هغه سیاستونو، پالیسیانو، حالاتو او ظروفو ایجادونکی او رامنځته کونکی نه دی چې د بهرنیو اړیکو د ښه کېدو او خرابېدو بنسټ ګرځي، بلکې د بهرنیو چارو وزارت یوازې په هېواد کې د موجودو حالاتو ترجماني کوي، نو که په هېواد کې دننه حالات برابر نه وي که د بهرنیو چارو وزارت هر څومره فعال او مؤثر وي څه به پرې مرتب نه شي، خو که کورني حالات برابر وي، د کور دننه سیاستونه په داسې توګه عیار شوی وي چې د ملت غوښتنه هم ده او بهرني هېوادونه او سازمانونه یې د اړیکو د ښه کولو لپاره اړین بولي نو بیا د بهرنیو چارو د وزارت د دومره فعالیتونو سره ډېرې ښې پایلې لاس ته راتللی شي.

که افغانستان غواړي چې د نړیوالې ټولنې یو فعال او مؤثر غړی وه اوسي نو اړینه ده چې خپل د کور دننه حالات د دې د غوښتنو سره عیار او هغه خنډونه چې د دې په مخ کې مانع ګرځي له منځه یوسي، که دا کار و نه شي او موږ هر څومره په یو طرفه ډول هڅې وکړو کېدای شي کومه زړه پورې پایله و نه لري.س

**دویم: د بهرنیو اړیکو په اړه د شرعي موازناتو په نظر کې نیول**

هغه پرېکړې چې د هېواد په دننه کې کېږي، او هغه فرمانونه او قوانین چې په داخل کې اجراء کېږي او د بهرنیو اړیکو په مخ کې خنډونه ایجادوي، بلکې جوړې اړیکې هم له منځه وړي، باید په مقایسوي ډول وڅېړل شي چې په شرعي لحاظ کوم لومړیتوب لري؟ د دې فرمانونو اجراء او که بهرنۍ اړیکې؟ که په دې فرمانونو کې داسې کارونه وي چې د «تحسینیاتو»[3] له جملې څخه وي او په مقابل کې پرې «حاجیات»[4] له لاسه ورکوو نو په دې اړه باید یو اتفاقي دریځ غوره کړی شي چې د موازناتو د فقهې د اصولو سره سم باید «حاجیاتو» ته په «تحسینیاتو» ترجیح ورکړی شي، همدا راز که دا تعارض د «مصلحت» او «مفسدې» ترمنځ وي او یا د دوو «مفسدو» ترمنځ وي، په دې اړه په اسلامي فقه کې موږ زیات قواعد لرو چې د هغوی سره سم باید دا قضیه بحث کړی شي، د دې قواعدو له جملې څخه دا لاندې قواعد یوازې د نمونې په توګه دلته لولو:

**د دوو مصلحتونو ترمنځ د تعارض په صورت کې:**

1. الأکثر مصلحة أولى بالتقدیم على الأقل مصلحة (په کوم څه کې چې زیاته ګټه وي هغه پر هغه وړاندې او مقدم دی چې د هغه په نسبت کمه ګټه ولري).

[3] - دا یوه اصولي اصطلاح ده چې په شرعي لحاظ د مکلفینو د افعالو مراتب په ګوته کوي، تحسینیات د حاجیاتو او ضروریاتو څخه لاندې مرتبه ده.

[4] - حاجیات د تحسینیاتو څخه لوړه مرتبه ده.

2. تُقدَّم المصلحة المتيقنة على المصلحة المظنونة أو الموهومة. (هغه ګټه چې يقيني وي هغه پر هغه ګټه بايد مقدمه او وړاندې وګڼل شي چې غير يقيني ګټه ولري او يا ګټه ونه لري بلکې يوازې د ګټې وهم وي).
3. تُقدَّم المصلحة الكبيرة على المصلحة الصغيرة. (لويه ګټه پر وړې ګټې بايد مقدمه وګڼل شي)
4. تُقدَّم مصلحة الجماعة على مصلحة الفرد. (د جماعت ګټه د فرد پر ګټه بايد مقدمه او وړاندې وګڼل شي).
5. تُقدَّم مصلحة الكثرة على مصلحة القِلَّة. (د زياتو خلکو ګټې ته د کمو خلکو پر ګټه بايد لومړيتوب ورکړل شي)
6. تُقدَّم المصلحة الدائمة على المصلحة العارضة أو المنقطعة. (دائمي ګټه د مؤقتې او د له منځه تلونکې ګټې په مقابل کې مقدمه ګڼل کېږي).
7. تُقدَّم المصلحة الجوهرية والأساسية على المصلحة الشكلية والهامشية. (بنسټيزه او مهمه ګټه د ظاهري او سرسري ګټې په مقابل کې لومړيتوب لري).
8. تُقدَّم المصلحة المستقبلية القوية على المصلحة الآنية الضعيفة. (د راتلونکې اړوند قوي ګټه د فوري ضعيفې ګټې په مقابل کې لومړيتوب لري).

**د مفسدې او مصلحت ترمنځ د تعارض په صورت کې:**

1. أن درء المفسدة مُقدَّم على جلب المصلحة. (د تاوان دفع کول د ګټې په لاسته راوړلو لومړيتوب لري)
2. أن المفسدة الصغيرة تُغتفر من أجل المصلحة الكبيرة. (وړوکی تاوان د لويې ګټې لپاره بخښل کېږي)
3. تُغتفر المفسدة العارضة من أجل المصلحة الدائمة. (مؤقت تاوان د دائمي ګټې لپاره بخښل کېږي)
4. ولا تُترك مصلحة محققة من أجل مفسدة متوهمة. (يقيني ګټه د يو وهمي او غير حقيقي تاوان له امله بايد پرې نه ښودل شي).

**د دوو مفسدو ترمنځ د تعارض په صورت کې:**

1. لا ضَرر ولا ضِرار. (نه چا ته تاوان رسول پکار دي او نه د ضرر رسولو په ځواب کې چا ته ضرر رسول پکار دي)
2. الضرر يُزال بقدر الإمكان. (تاوان او ضرر بايد د امکان تر کچې له منځه يوړل شي)
3. الضرر لا يُزال بضرر مثله أو أكبر منه. (ضرر بايد د هغه د مماثل ضرر او يا د هغه څخه د لوی ضرر له لارې له منځه نه وړل کېږي).
4. يُرتكب أخف الضررين وأهون الشرين. (د دوو ضررونو او د دوو بدو څخه چې هر يو کم وي د هغه ارتکاب په کار دی).
5. يُحتمل الضرر الأدنى لدفع الضرر الأعلى. (کم ضرر د لوی ضرر د له منځه وړلو لپاره د تحمل وړ دی).
6. يُحتمل الضرر الخاص لدفع الضرر العام. (خاص ضرر د عام ضرر د له منځه وړلو لپاره د تحمل وړ دی)[5].

[5] - دا قواعد په بېلابېلو کتابونو کې ذکر شوي دي، د الأشباه والنظائر کتابونه، همدا راز د فقهي قواعدو کتابونه خو د نمونې په توګه وګورئ: فقه الأولويات دراسة في الضوابط، د سلسلة الرسائل الجامعية (۲۲) ګڼه، ليکوال: محمد الوکيلي، د المعهد العالمي للفكر الاسلامي چاپ، ورجينيا- امريکا، لومړی چاپ، کال ۱۹۹۷م، په ځانګړې توګه پنځم فصل چې عنوان يې دی «ضوابط الأولويات في حالة التزاحم» ص ۱۹۷، همدا راز وګورئ: معلمة زايد للقواعد الفقهية والأصولية ج۴ ص ۱۱۷، الباب الخامس: قواعد الموازنة والترجيح بين المصالح، لومړی چاپ ۲۰۱۳م، د مؤسسة زايد بن سلطان آل نهيان چاپ.

د دې معنی هیڅکله هم دا نه ده چې افغانستان دې د خپلو دیني اصولو او ملي مصالحو څخه تنازل وکړي، بلکې د دې معنی به دا وي چې موږ سرې کرښې وضع کړو چې له دې څخه تنازل نشته او نورې قضیې د موازناتو او مصالحو او مفاسدو د قواعدو تابع دي، دا به هغه جهتونو ته د فعالیت ډګر پرانیزي چې د دې اړیکو د رغولو لپاره کار کوي.

**دریم: د شکلي اړیکو پر ځای د هېوادونو سره د اعتماد فضا رامنځته کول**

دریمه قضیه چې باید موږ سره بالکل واضح او څرګنده وي، هغه دا ده چې په دې حالاتو کې د افغانستان لپاره یوازې په رسمیت پېژندل کفایت نه کوي، او یوازې دا بسنه نه کوي چې موږ دې په نورو هېوادونو کې سفارتونه ولرو، او یا دې نور هېوادونه په افغانستان کې سفارتونه ولري، درسته ده چې دا لومړی پړاو دی خو دا نهایی هدف هیڅکله نه دی، بلکې موږ باید د کامیابې دیپلوماسۍ له لارې هېوادونه دې ته قانع کړو چې د افغانستان سره د مشترکو ګټو پر بنسټ تعامل وکړي، مثبتې اړیکې ورسره ولري، ځکه نړۍ ځینې هېوادونه په رسمیت پېژني خو تعامل ورسره نه کوي (لکه د سوډان پخوانی حکومت، او یا هم د ایران اوسنی نظام) موږ د داسې بهرنیو اړیکو متحمل کېدی نه شو چې د نړۍ د هېوادونو د مقاطعې او یا هم د نړیوالې ټولنې د بندیزونو سره په کې مخ یو، موږ باید د نړۍ د هېوادونو او نړیوالو سازمانونو سره قوي او فعالې اړیکې تأمین کړو.

د دې معنی دا ده چې موږ باید د هر څه دمخه د هېواد په داخل کې هغه بستر جوړ کړو چې پر بنسټ یې موږ بهرنۍ اړیکې پیاوړې کولی شو، د قیادت په کچه هغه همغږي رامنځته کړو چې د پیاوړو بهرنیو اړیکو لپاره د مناسب بستر په رامنځته کولو کې مهم رول ولري، تر څو چې دا ډول همغږي رامنځته نه شي دا ډول پیاوړي اړیکي جوړول یوازې د بهرنیو چارو د وزارت د توان څخه پوره نه دي، د بېلګې په توګه که موږ د خلاصو دروازو بهرنی سیاست غوره کوو چې د ټولو هېوادونو سره د تګ راتګ اړوند او د تعامل اړوند هیڅ ډول قیود نه وضع کوو او د هېواد په دننه کې ورته په قانوني لحاظ اړین کارونه سرته نه وي رسېدلي نو په داسې حالت کې به دا ډول سیاست پلی کول نا ممکن وي، همدا راز که موږ غواړو هېواد د سیمې لپاره د اتصال نقطه وګرځوو خو زموږ قانوني سیستمونه د دې لپاره نه وي جوړ دا به هم یوازې یو شعار پاتې وي او په عمل کې به هیڅکله پیاده نه شي، د دې تر څنګ دا اړینه ده چې هېواد د قوانینو او قانونمندۍ په لحاظ داسې حالت ته ورسېږي چې بهرني هېوادونه د افرادو پر ځای د نظام او سیستم سره تعامل وکړي، او دا تشویش ورسره نه وي چې که یو فرد د یو مسؤولیت څخه لیرې کېږي نو د هغوی د تفاهماتو پایله به څه وي؟

د بهرنیو اړیکو لپاره دا بستر هغه وخت رامنځته کېدلی شي چې د نظام د مسؤولینو په شمول د هېواد د مخلصو خلکو د مشورې او بحث مباحثې په پایله کې د راتلونکو شلو کلونو لپاره استراتېژیک اهداف وټاکل شي، او دا بیا په کلونو وویشل شي، او د بهرنیو چارو د وزارت په شمول ټولو وزارتونو او ادارو ته مشخص اهداف ورکړل شي چې د هر کال په تېریدو سره یې باید ترلاس کړي، همدا اهداف د هر وزارت د کامیابۍ او ناکامۍ معیارونه او شاخصونه وي، دا وزارتونه او ادارې د همدې اهدافو د تحقق او عدم تحقق پر بنسټ محاسبه شي، هېواد د جمعي ادارې په لور یوړل شي، وزارتونو ته ټارګېټونه ورکړل شي، او بیا د هغوی د تحقق لپاره ورته د فعالیت ازادي ورکړی شي، او په وړو وړو کارونو کې د چا له لورې مداخله و نه شي، خو د کال په پای کې د ټاکلو اهدافو د تحقق او عدم تحقق په اړه واقعي راپور وړاندې شي چې په پایله کې یې باید د وزارت په مسؤولیت کې د وزیر د پاتې کېدو او نه پاتې کېدو په اړه باید فیصله وشي.

**څلورم: خپل مصداقیت ساتل**

څلورمه قضیه چې ډېره مهمه ده هغه د خپلو وعدو مصداقیت ساتل دي، د بهرنیو اړیکو د قوي کولو لپاره یوه بنسټیزه اړتیا د خپلو وعدو مصداقیت ساتل دي، که د بېلابېلو قضیو په اړه هغه څه عملي نه کړی شي چې د بهرنیو هېوادونو سره پرې ژمنه کېږي دا به په اوږد مهال کې د بهرنیو چارو وزارت مصداقیت ته ډېر زیان ورسوي، چې دا به په پای کې یوازې د بهرنیو چارو د وزارت حیثیت زیانمن نه کړي بلکې د ټول اسلامي امارت حیثیت به د ستونزو سره مخ کړي.

**پنځم: متوازنې اړیکې یا بې پرې سیاست**

په دې کې شک نشته چې نړۍ د یو قطبي حالت څخه د وتلو په حال کې ده، او د څو قطبي کېدو حالت ته روانه ده، په داسې حالاتو کې یو طرفه سیاستونه د افغانستان په څېر یو د هېواد لپاره ډېر زیانمن ګرځي چې ډېر ځانګړی جیوپولیتیک موقعیت لري، داسې یو موقعیت چې د دې قطبونو څخه د هر یو لپاره ډېر اړین بربښي، د امریکا متحده ایالتونه فکر کوي چې د چین د اقتصادي کنټرول لپاره، همدا راز د ایران او منځنۍ ختیځ سره د چین د اړیکو د پیاوړتیا د مخنیوي، او د چین د لوی پروژې (یو کمر بند یوه لار) د بېلابېلو نښلوونکو لارو د کنټرول لپاره د افغانستان سره ښې اړیکې اړینې دي، تر څو له دې لارې وکولی شي چې د چین اقتصادي پراختیا کنټرول کړي، او په ورته مهال کې په افغانستان کې د معادنو او نورو سکتورونو کې د پانګونې څخه یې مانع وګرځي، او په دې توګه یې د نړۍ د قیادت پر سر په سیالۍ کې وروسته پرې ږدي، همدا راز په افغانستان کې د موجودیت له لارې د منځنۍ ختیځ په لور د چین د پراختیا او غزېدو مخه ونیسي، او په منځنۍ ختیځ کې د انرژۍ د سرشارو سرچینو له استفادې څخه یې محروم کړي.

د دې تر څنګ امریکا د متحده ایالتونه په سیمه کې د مؤثریت له لارې غواړي چې د چین د اقتصادي پرمختګ د کنټرول لپاره د هغه هېواد په داخل کې ستونزې او شخړې رامنځته کړي، چې د چین لپاره تر ټولوستره بالقوه ستونزه په شمالي ترکستان کې د ایغوري مسلمانانو ستونزه کېدلی شي، د مسلمانانو په مقابل کې د چین د غلطو سیاستونو له امله دا قضیه د چین لپاره لوی سر درد جوړولی شي، او د امریکا متحده ایالتونه له دې حالت څخه پوره ګټه پورته کول غواړي، او له مودو راهیسې د دې لپاره کار کوي، او د امریکا د متحده ایالتونو له نظره د دې کار د سرته رسولو لپاره یو تر ټولو غوره سنګر افغانستان کېدلی شي، د همدې لپاره یې په تېرو کلونو کې په افغانستان کې د خپلو دایمي اډو د جوړولو هڅې کولی او کله به یې په لوړه کچه د خپل استخباراتي وجود په دوام ټینګار کاوه، همدا د امریکا د متحده ایالتونو د پخواني جمهور رئیس ډونلډ ټرامپ له څرګندونو څخه هم څرګندېږي.

د دې په مقابل کې چین غواړي چې د (One Belt One Road) ستري پروژې[6] له لارې د نړۍ هېوادونه له ځان سره ونښلوي، او د دې کار لپاره ورته یو تر ټولو بهترینه نښلوونکی لار د افغانستان څخه تېرېږي، چین غواړي د ایران او منځنۍ ختیځ سره خپلې اړیکې د افغانستان له لارې نږدې کړي، او په دې توګه د منځنۍ ختیځ د انرژۍ د زېرمو څخه استفاده وکړي، چې تر ټولو بارز مثال یې د چین او ایران ترمنځ پنځه ویشت کلن تړون دی چې په پایله کې به یې ایران په ارزانه بیه

[6] - د چین د دې ستري پروژې په اړه د تفصیلاتو لپاره وګورئ: د ویکي پېډیا انګلیسي پاڼه چې په ډېر تفصیل سره یې نوموړې پروژه معرفي کړې ده، (Belt and Road Initiative - Wikipedia).

چین ته ګاز او نفت ورکوي او په بدل کې به چین په ایران کې ۴۰۰ میلیارده ډالر پانګونه کوي[7]، همدا راز د چین په منځګړیتوب د ایران او سعودي ترمنځ د تفاهم رامنځته کېدل د دې هڅو یوه کړی ده.

د دې معنی دا ده چې دا سیمه لکه د پخوا په څېر د نړۍ د سترو ځواکونو لپاره جذابیت لري، او دا ستر هېوادونه دلته مؤثر پاتې کېدل غواړي، خو د متوازنو اړیکو غوښتنه دا ده چې موږ د دې ټولو ستر ځواکونو سره ښې او مثبتې اړیکې ولرو، خو په یو طرفه ډول د هیڅ یو ستر ځواک په لمن کې و نه لوېږو، بلکې خپله ازادي وساتو، خپلې فیصلې د خپلو ګټو پر بنسټ پخپله وکړو، بل چا ته پر دې فیصلو د اغېز اجازه ور نه کړو، په دې لړ کې دا باید په ذهن کې ولرو چې چین یو داسې ممسک او بخیل هېواد دی چې هیڅکله به هم د دې بخل او امساک سره د نړۍ د قیادت ورټیا ترلاسه نه کړی شي، له بل پلوه چین د تمدن په توګه ـ په غالب ګمان ـ هیڅکله هم د نورو تمدنونو سره د مقابلې توان و نه لري، ځکه چین په حقیقت کې داسې کومې تمدني ځانګړتیاوې نه لري چې د نورو لپاره جذابیت ولري، خو د یو لوی اقتصادي ځواک په حیث بلکې د نړۍ د ستر اقتصادي او نظامي ځواک په حیث شاید رامخ ته شي، او دا خو څرګنده خبره ده چې تمدن یوازې د اقتصادي او نظامي ځواکمنتیا نوم نه دی، بلکې د دې تر څنګ د علم معرفت، اخلاقیاتو، فلسفې، تعامل او د نرم ځواک په در لودلو سره یو تمدن او یو هېواد د نورو لپاره د منلو وړ ګرځي.

نو یوازې د چین او د چین محوره ایتلاف سره د اړیکو جوړول او پیاوړي کول نه زموږ د اقتصادي ستونزو په حل کې همکاري کولی شي، او نه د سیاسي اړیکو په پراختیا کې مؤثر رول لوبولی شي، خو په ورته مهال کې چین زموږ په ګاونډ کې پروت یو ستر نظامي او اقتصادي ځواک هم دی چې ورسره د اړیکو خرابېدل افغانستان د ستونزو سره مخ کولی شي، خو بشپړ اعتماد پرې هیڅکله هم نه شي کېدلی، ځکه نه د اعتماد وړ ملګری دی او نه د مصرف لپاره لوی زړه لري، بلکې اړیکې هم باید ورسره په ډېر احتیاط وه پالل شي چې خدای مه کړه د دې اقتصادي اړیکو په پایله کې په راتلونکې کې افغانستان د یو بل ډول استعمار سره مخ نه شي.

چین په سیمه او نړۍ کې د اقتصادي پراختیا لپاره په طبیعي توګه د همکاریو او اړیکو د پراختیا لپاره لیوالتیا لري، په ورته مهال کې د سیمې څخه د امریکا د متحده ایالتونو د لرې ساتلو په هڅه کې هم دی، تر څو ورته په داخل کې امنیتي ستونزې را ولاړې نه کړي، له دې امله د چین سره د اړیکو د پراختیا او پیاوړتیا په لړ کې شاید ډېر کوښښ او جهد ته اړتیا نه وي، خو دې ته اړتیا ده چې په ډېر مهارت باید مخ ته ولاړ شو، تر څو خدای مکړه په افغانستان کې د سریلانکا او څه نورو افریقایي هېوادونو تجربه تکرار نه شي چې په چین باندې د اعتماد له امله یې ازادي هم د ګواښ سره مخ شوه، د چین سره د اقتصادي اړیکو په اړه د مهاتیر محمد په وخت کې د مالیزیا تجربه هم د څېړنې وړ تجربه ده.

له بل پلوه، سره له دې چې د امریکا متحده ایالتونه یو ظالم او ښکېلاکګر هېواد دی، خو تر اوسه هم په نړۍ کې اغیزمن رول لري، د نړۍ د اوسنې ستر هېواد سره ښې اړیکې هم د هېواد د اقتصادي ستونزو په کمولو کې اغیزمن رول لوبولی شي او هم په سیاسي ډګر کې پرې ډېرې ګټې مرتبېږي، او د هغه سره خرابې اړیکې ډېرې ستونزې هم رابرسېره کولی شي، خو په دې فکر په کار دی چې د چین د کنټرول پرته او د نورو هېوادونو ته د ضرر رسولو پرته هغه کوم میدانونه دي چې د نړۍ د دې ستر هېواد سره د افغانستان مشترکات کېدلی شي، دا باید ولټول شي چې هغه کوم ګډ میدانونه دي چې په کې د

[7] - د دې لپاره وګورئ: خبر ګزاری تسنیم (منافع سند همکاری 25ساله با چین برای ایران/ 400میلیارد دلار سرمایه گذاری در راه است- اخبار اقتصاد ایران - اخبار اقتصادی تسنیم| Tasnim (tasnimnews.com)) د ۱۴۰۱هـ ش کال د دلوې د میاشتې ۲۵ نېټه.

امریکا د متحده ایالتونو سره د اړیکو د جوړولو امکانات وجود لري، زما له نظره خو داسې میدانونه شته چې د ګډو همکاریو وسیله ګرځېدلی شي (په دې اړه بحثونو ته اړتیا شته چې دا میدانونه مشخص کړی شي)، او د دې میدانونو لټول له دې امله اړین دي چې موږ خو په هر حال د امریکا د متحده ایالاتو سره ښو اړیکو ته اړتیا لرو خو د دې اړیکو محور باید هیڅکله هم دا نه وي چې افغانستان د هغه هېواد د لاس آله وګرځي تر څو یې د نورو پر ضد استعمال کړي، له دې پرته باید موږ هغه میدانونه مشخص کړو چې د امریکا د متحده ایالتونه په کې خپلې ګټې ویني او دلچسپي په کې لري، د دې دوامداره دلچسپۍ رامنځته کول د هېواد اړتیا ده، همدې ته موږ متوازنې اړیکې وایو چې د نړۍ د سترو ځواکونو دلچسپي په افغانستان کې دوامداره وساتو خو د دوی ترمنځ په روانو شخړو کې د هیڅ یو طرف و نه نیسو، د اړیکو په اړه بې پرواه پاتې کېدل، او د دې سترو ځواکونو سره د اړیکو په اړه بې تفاوته پاتې کېدل هیڅکله هم د توازن معنی نه افاده کوي.

سره له دې چې په اوسنیو شرایطو کې د امریکا د متحده ایالتونو لومړیتوب به دا وي چې که په سیمه کې خپل مؤثر استخباراتي شتون یقیني کړي تر څو دا مهمه سیمه د هغه له نفوذ څخه وتلی نه وي، او د چین محوره ایتلاف او امریکا د متحده ایالتونو ترمنځ د نړۍ د قیادت پر سره په دې مسابقه کې ډېر امکانات په لاس کې ولري، خو که دلته داسې استخباراتي شتون حفظ نه کړی شي، نو بیا به یې ترجیح دا وي چې دلته په دې سیمه کې داسې جنګونه رامنځته کړي چې منطقه بې ثباته کړي، او خپل حریف هېوادونه په دې جنګونو کې راښکیل کړي، او خپل حریف هېوادونه په هغه حالت کې ښکیل کړي چې د افغانستان څخه له وتلو مخکې په کې امریکا پخپله ښکیل وه، د افغانستان د بهرنیو اړیکو یو بنسټیز هدف باید دا وي چې د امریکا متحده ایالتونه په مثبت ډول په افغانستان کې ښکېل وساتي، هغه میدانونه ولټول شي چې په هغه کې ښکېلتیا د امریکا د متحده ایالتونو لپاره هم ګټور دي او افغانستان د نیابتي جنګونه ډګر هم نه ګرځوي.

دې هدف ته د رسېدلو لپاره د اوسنی ښه فرصت څخه باید ښه استفاده وکړو، او هغه داسې چې د امریکا متحده ایالتونه په اوسنیو شرایطو کې د ډېر نظامي فشار د واردولو ډېر واک او ځواک په لاس کې نه لري، ځکه چې د افغانستان ګاونډي او د سیمې نور هېوادونه په سیمه کې د جنګ او بې امنیو څخه په تنګ دي، همدا راز په سیمه کې د امریکا د متحده ایالتونو پوځي شتون ټول هېوادونه په خپل زیان بولي، (خو د دې امکان شته چې د پاکستان د اقتصادي ستونزو د حل په بدل کې د پاکستان اردو او استخبارات د بیا لپاره په افغانستان کې د امنیتي ستونزو د رامنځته کولو لپاره په کار واچول شي، خو د دې تدارک ممکن دی) په دې توګه په افغانستان باندې د امریکا د متحده ایالتونو لپاره د فشار د واردولو ډېره زیاته زمینه نه ده برابره، خو د دې معنی دا نه ده چې اوس دا زمینه نه ده برابره نو دا فرصت به موږ همېشه په لاس کې ولرو، بلکې دا حالات بدلېږي را بدلېږي، نو موږ باید د دې فرصت څخه داسې ګټه پورته کړو چې له یوې لورې په خپل هېواد د بل جنګ د مسلط کولو مخه ونیسو او له بلې لورې د داسې حل لارو د مسلط کولو مخه ونیسو چې د نورو په خوښه به پر موږ مسلط کېږي، او دا کار د دوه ګامونو په پورته کولو کولی شو:

لومړی: موږ باید د نړۍ د هېوادونو سره متوازنې اړیکې وساتو، موږ باید د امریکا د متحده ایالتونو او غرب سره اړیکې سرېدو ته پرې نه ږدو، بلکې د نړۍ د ټولو هېوادونو او په ځانګړې توګه د غربي نړۍ سره د دپلوماتیکو اړیکو په جوړولو تر اخیري بریده ټینګار وکړو، ځکه یوازې د چین او روسیې د محور سره اړیکې پیاوړې کول موږ بیا یو غیر متوازن حالت ته وړلی شي، موږ باید د دې دواړو محورونو سره متوازنې اړیکې ولرو.

دويم: په هېواد کې داسې حالت رامنځته کړو چې د ملت د زياتې برخې همکاري او اعتماد را جلب کړو، په ملي مشروعيت کار وکړو، او د يو څو سياسي او نمايشي کارونو پر ځای د ټولنې عام وګړي را خپل کړی شي، هغه خلک چې ټولنه بې ثباته کول غواړي عام خلک بايد د هغوی څخه را جلا کړل شي، او دا کار بايد مخکې له دې وشي چې د ظروفو او حالاتو د فشار په پايله کې ورته اړ کېږو.

د دې ترڅنګ زموږ په سيمه کې د سيمې د هېوادونو ترمنځ کړکېچونه دې ته زمينه برابروي چې د خپلو ستونزو حل او د حساباتو تصفيه د افغانستان په خاوره سره وکړي، تر څو خپل جنګونه د خپلو هېوادونو د سرحدونو څخه بهر پرمخ يوسي، په دې لړ کې د هند او پاکستان ترمنځ ستونزې دواړه دې ته هڅوي چې په افغانستان کې مؤثر رول ولري، او د افغانستان د خاورې څخه يو د بل پر ضد استفاده وکړي.

همدا راز د سيمې نور هېوادونه په خپلو کې ستونزې لري، خپلې شخړې لري، او غواړي له هرې ممکنې لارې خپلو ګټو ته ځان ورسوي، چې يو ډېر ځرګند مثال يې د ايران او سعودي عربستان ترمنځ ستونزې دي (د سلفي او رافضي سياسي جګړی) بل مثال يې د قطر او سعودي ترمنځ ستونزې، او د عربي اماراتو او قطر ترمنځ ستونزې اوشخړی دي، موږ د دې ټولو هېوادونو سره متوازنې اړيکې غواړو او بايد د دې لپاره کار وکړو، خو په هيڅ قضيه کې بايد د هيڅ چا لپاره آله و نه ګرځو، او نه بايد چا ته د دې فرصت ورکړو چې نه په لنډمهال کې او نه په اوږد مهال کې د يو هېواد لپاره د بل هېواد پر ضد کړنې تر سره کړو، زموږ دريځونه او اړيکې بايد داسې ترسيم شي چې زموږ د هېواد او ملت لوړې ګټې خوندي کړي، او همدا يې بايد تر ټولو بنسټيز معيار وي، وروسته له دې چې دا وکتل شي چې په کې شرعي محظور وجود و نه لري.

د متوازنو اړيکو کوم سياست چې اوس مخ ته وړل کېږي دا د وخت اړتيا او د هېواد ضرورت دی، او د سياست په اړه يوه ډېره په زړه پورې تګلاره ده، خو دا تګلاره هغه وخت کاميابېدلی شي چې د دې تګلارې اړتياوې په نظر کې ونيسو، او د دې تر ټولو بنسټيزه اړتيا دا ده چې خپله د ضعف نقطه د بل چا په لاس کې پرې نه ږدو، او د ضعف تر ټولوستره نقطه دا ده چې نورو هېوادونو ته دا فرصت تر لاسه وي چې خپل افغانان را ته په لاس کې ونيسي، او دا هغه وخت نورو هېوادونو ته په لاس ورځي چې موږ ټول افغانان په نظام کې را ټول نه کړی شو!.

**ثالثا: د نورو هېوادونو سره د مثبتې ښکېلتيا اړوند لومړيتوبونه**

په اوسنيو شرايطو کې يو لړ قضيې دي چې د هېواد لپاره استراتيژيک حيثيت لري او بايد چې د بهرني سياست د اهتمام مرکز وي، بايد په اوس مهال کې د بهرني سياست لومړيتوبونه وه اوسېږي، په ورته مهال کې دا هغه قضيې دي چې موږ له دې لارې د نړی ببلابېل هېوادونه د افغانستان سره د مثبتو اړيکو درلودلو ته هڅولی شو، له دې امله دې ته موږ د نورو هېوادونو سره د اسلامي امارت د مثبتې ښکېلتيا لپاره لومړيتوبونه وايو، له همدې پلوه دا قضيې ستراتيژيک حيثيت لري او له دې امله هم دا قضيې مهمې دي چې دا زموږ د هېواد او هېوادوالو په ژوند مثبت او منفي اغېز لري، په دې کې دا لاندې قضيې ډېرې مهمې دي.

**لومړی: سيمه ييز اتصال**

په افغانستان کې د با ثباته او دائمي امنيت لپاره دا اړين دي چې موږ بايد په دې هېواد کې آرامي، امنيت او استقرار د سيمې د هېوادونو ضرورت وګرځوو، په دې معنی چې د سيمې د ټولو هېوادونو حياتي ګټې د افغانستان سره وتړو تر څو دلته د امنيت د خرابېدو په صورت کې د دې هېوادونو خپلې حياتي ګټې اغېزمنې شي، تر څو د افغانانو څخه دوی د افغانستان

د امنیت په اړه زیات فکرمند وه اوسېږي، او هیڅکله هم په افغانستان کې د ګډوډیو د رامنځته کولو تصور هم و نه کړي، او دا کار موږ په دې توګه کولی شو چې افغانستان د سیمه ییز اتصال په مرکز بدل کړو، افغانستان باید د منځنۍ آسیا او جنوبي آسیا ترمنځ د وصل نکته وګرځي، همدا راز د چین او ایران، د چین او منځني ختیځ ترمنځ د اتصال نکته وګرځي، افغانستان باید د دې سیمو پر امنیت مثبت اغېز ولري، په امنیتي تړونونو کې مثبت رول ولري، افغانستان باید منځنۍ آسیا، چین، منځني ختیځ او د جنوب ختیځې آسیا او نورو سیمه ییزو کلتورونو لپاره د التقاء نقطه وګرځي.

د افغانستان له لارې باید د دې سیمو ترمنځ سوداګریز توکي تبادله شي، افغانستان باید د اورګاډي د پټلۍ او سوداګریزو لارو په وسیله د سیمې هېوادونه سره ونښلوي، افغانستان باید په سیمه کې په یو سوداګریز مرکز «Hub» بدل شي، همدا راز افغانستان باید د هغه هېوادونو څخه چې د انرژۍ (برق، نفت او ګاز) زیاتې زیرمې او امکانات لري هغه هېوادونو ته د انرژۍ د انتقال لپاره د اتصال په مرکز بدل شي چې د نړۍ په کچه د انرژۍ په مصرف کې تر ټولو ستر هېوادونه شمېرل کېږي، لکه هند او چین.

د دې ترڅنګ دا سیمه ییز اتصال د افغانستان په اقتصادي وضعیت باندې خورا ستر اغېز لري، ځکه کله چې افغانستان د تجارتي مالونو، انرژۍ او ترانسپورتي خدماتو په مرکز بدل شي نو دلته به د دې په پایله کې د افغانستان د خلکو لپاره بې شمېره کاري فرصتونه برابرېږي چې دا د افرادو او کورنیو په اقتصادي وضعیت ډېره زیاته اغېزه لري، همدا راز د ترانزیت څخه چې کوم عوائد لاس ته راتللی شي هغه د هېواد د بودیجې لپاره یو ستر مصدر ګرځېدلی شي.

کله چې د کوم هېواد اقتصاد مستحکم وي، او د اقتصادي پیاوړتیا اثرات عام وګړي ته ورسېږي، په هېواد کې کاري فرصتونه وجود ولري، د خلکو ژوند هوسا وي هلته بیا څوک په اسانۍ سره لاس وهنه هم نه شي کولی، او نه د هغه هېواد ځوانان څوک بې لارې کولی شي.

نو په اوسنیو شرایطو کې د هېواد د بهرنیو چارو د وزارت یو ستر مسؤولیت دا دی چې د دې پورته هدف د لاس ته راوړلو لپاره کار وکړي، خو دا یاد ساتل په کار دي چې دا کار هغه وخت شونی دی چې د هېواد او نظام په دننه د دې لپاره ذهني امادګي وجود ولري او د نظام د بېلا بېلو برخو ترمنځ همغږي وجود ولري.

**دویم: اقتصاد محوري**

یو د هغه قضیو څخه چې زموږ د بهرنیو اړیکو د مثبتې بڼکېلتیا لپاره لومړیتوب وګرځول شي د افغانستان د اقتصادي اړیکو پیاوړتیا او د اقتصاد په رغونه کې مؤثر رول لوبول دي، د اقتصادي سکتوري وزارتونو (د اقتصاد وزارت، د معادنو او پترولو وزارت، د تجارت وزارت او داسې نورو) لپاره د اقتصادي اړیکو د پیاوړي کولو زمینه برابرول دي، د دې هدف د لاسته راوړلو لپاره باید اقتصادي اړیکې، سوداګریزه ډیپلوماسي، د نړۍ د هېوادونو سره په عام ډول او د ګاونډیو هېوادونو سره په ځانګړې توګه سوداګریزې اړیکې جوړول، بانکي سیستمونه اعاده کول، د بیروني پانګونې راجلبول مهم ګامونه ګڼل کېږي، په دې اقتصاد محوره او تجارت محوره بهرنیو اړیکو کې بې شمېره ګټې پرتې دي چې شاید دلته یې یادونې ته اړتیا نه وي ځکه دا یو څرګند حقیقت دی، د دې هدف د لاسته راوړلو لپاره دا اړین دي چې د کور دننه موږ د دې هدف د لاس ته راوړلو لپاره ظروف او حالات برابر کړي وي، که موږ دا هدف وټاکو خو د کور دننه سیاست مو د دې د غوښتنو سره سم نه وي عیار کړی بیا دا هدف نه شي ترلاسه کېدلی، د دې تر څنګ د دې هدف د لاسته راوړلو لپاره لاندې کارونه اړین دي چې باید په اوسنیو شرایطو کې د بهرنیو اړیکو لپاره د لومړیتوبونو په توګه وټاکل شي:

1. د اړونده ادارو، وزارتونو او د افغانستان بانک په همکارۍ د افغانستان د بانکي سیستمونو فعالول، او د بهرنیو هېوادونو د بانکي سیستمونو سره د افغانستان د بانکونو د اړیکو عادي کول، تر څو په عادي توګه د نړۍ سره راکړه او ورکړه اسانه شي.
2. د افغاني تولیداتو لپاره بازار موندنه باید یو د هغه اهدافو څخه وي چې د اړوند وزارتونو په همکارۍ او همغږۍ د افغانستان د بهرنیو اړیکو په لومړیتوب کې قرار ولري، موږ باید هغه زراعتي تولیدات بهرنیو مارکیټونو ته ورسوو چې زموږ بزګران یې په ډېرو ستونزو د ځمکې څخه ترلاسه کوي، همدا راز که موږ دلته تولیدي کارخانې ولرو د هغوی محصولات هم باید په بهرنیو مارکیټونو کې عرضه کړو، تر څو د سوداګرۍ انډول کنټرول  کړو، او یوازې یو استهلاکي ملت نه اوسو.
3. بهرنۍ ډېپلوماسي باید د دې لپاره په کار واچولی شي چې موږ لوی شرکتونه د خپلو شرطونو سره سم پانګونې ته وهڅوو، په ځانګړې توګه په مهمو خدماتي سکتورونو کې لکه د انرژي سکتور، د خدماتو سکتور، د زیربنا په برخه کې، د زراعت، مالدارۍ او صنعت په برخه کې، او عمومي پالیسي باید دا وي چې موږ د خامو موادو د خرڅولو پر ځای د هېواد په دننه کې تولیدي اقتصادي فعالیتونه تشویق کړو، او خلک په صنعت کې پانګونې ته وهڅوو.
4. په دې برخه کې باید دې ته متوجه واوسو چې د بیا لپاره په یو هېواد په ځانګړې توګه په داسې یو هېواد چې په دیني لحاظ زموږ ټولنه زیانمنه کوي بشپړ اعتماد ونه کړو، که لږ یې په صراحت سره ووایو چې یوازې په چین باندې په دې لړ کې اعتماد به زموږ هېواد د یو بل بهرني یرغل په درشل کې ودروي، همدا راز دا به په اقتصادي لحاظ د افریقایي هیوادونو او جنوب شرق آسیا د هیوادونو په ځانګړې توګه د سریلانکا تجربه تکرار کړي.
5. د افغانستان بهرنۍ سیاسي نماینده ګۍ باید د پانګونې د تسهیل په مراکزو بدل شي که وکولی شو چې په سفارتونو او نماینده ګیو کې داسې وړ کسان وګمارل شي چې د اړوند هېوادونو شتمن خلک د بېلا بېلو پروګرامونو له لارې په افغانستان کې پانګونې ته تشویق کړي.
6. په اوسنیو شرایطو کې د هېوادونو د عایداتو د سترو سرچینو څخه یو هم سیاحت او توریزم دی، موږ ډېر غني تاریخ لرو، دا د عامو مسلمانانو سره د اړیکو د جوړولو لپاره هم ښه وسیله ده
7. په داخل کې باید د داسې قانون جوړونې لور ته ولاړ شو چې د بهرنۍ پانګونې د را جلبولو وسیله وګرځي، داسې قانون سازي چې له یو پلوه د پانګونې لپاره ښه بستر مهیا کړي، او له بل پلوه د پانګونې او د سرمایې د انتقال لارې چارې ساده او اسانې کړي، او په ورته مهال کې هغه ویره له منځه یوسي چې پانګوال یې په عام ډول د ځان سره لري، په عربي کې یو متل دی چې وایي: "رأس المال جبان" سرمایه ډېر بې زړه شی دی، یعنې چېرته چې لږ ګواښ هم ورته متوجه وي هلته نه ځي، نو موږ باید د قانون جوړونې له لارې د پانګوالو وېره له منځه یوسو.

**درېیم: د اوبو قضیه**

یو له هغه قضیو څخه چې د ګاونډیو هېوادونو سره زموږ د اړیکو د خرابېدو لامل ګرځي د افغانستان د اوبو د کنټرول قضیه ده، دا باید په اوس مهال کې د مثبتې ښکېلتیا لپاره لومړیتوب ولري، د اوبو قضیه که له یوې خوا امنیتي ستونزې او مشکلات زیږوي له بلې خوا د اوبو او بریښنا په بندونو او تأسیساتو کې د نړیوالو ادارو د پانګونې په مخ کې خنډ ګرځي، د ایران، پاکستان او منځنۍ آسیا د هېوادونو سره د اوبو شخړه باید یو د هغه بنسټیزو قضیو څخه وي چې د بهرنیو اړیکو محور تشکیل کړي، د دې کار لپاره تر هر څه دمخه اړینه ده چې یوه داسې علمي کمیټه تشکیل شي چې د اوبو اړوند متخصصینو او د اوبو اړوند نړیوالو قوانینو کې تخصص لرونکي شخصیتونه په کې ګډون ولري، دا ملي کمیټه باید یوه داسې پالیسي ترتیب کړي چې زموږ د ملي ګټو ساتونکي وي او د نړیوالو قوانینو سره هم په ټکر کې نه وي، او بیا پرې د ملت د مخورو خلکو تأیید هم واخیستل شي، دا سند باید د اوبو اړونده مذاکراتو کې موږ لپاره لارښوونکي اصول وټاکي او په دې اړه سره خطونه معلوم کړي چې په هیڅ صورت ترې باید تنازل و نه شي، او د همدې ملي سند د روح سره سم موږ باید د اوبو اړوند شخړو ته د پای ټکی کېږدو.

**څلورم: د عسکریت او مسلحو مقاومتونو او تروریزم قضیه**

د نورو هېوادونو اړوند د مسلحو مقاوتي ډلو قضیه د مثبتې ښکېلتیا لپاره یوه بله مهمه قضیه ده، او اسلامي امارت یې ورته باید په لومړیتوبونو کې ځای ورکړي، دا قضیه یوه داسې مهمه قضیه ده چې د افغانستان راتلونکې ورسره تړلې ده، په دې معنی چې هېوادونه او په ځانګړې توګه د سیمې هېوادونه دې ته سترګې په لاره دي چې په دقیق ډول په دې پوه شي چې اسلامي امارت به د هغه ډلو په اړه څه دریځ غوره کوي چې په خپلو هېوادونو کې د مسلح مقاومت او یا هم د عسکري فعالیتونو له لارې بدلون راوستل غواړي، دا ډول عسکري فعالیتونه به د اسلامي امارت لپاره د منلو وړ وي؟ که اسلامي امارت به د دوی په اړه کوم بل ډول دریځ غوره کوي؟

په دې کې شک نشته یو شمېر هغه خلک چې نړیواله اجنډا لري او په اسلامي نړۍ کې د دوی په اصطلاح د غرب د ګوډاګي رژیمونو پر ضد او په اسلامي نړۍ کې د امریکا د متحده ایالتونو د موجودیت پر ضد د مسلح مقاومت او عسکري فعالیتونو پر تګلاره روان دي خو عموما خارجي او تکفیري فکر نه لري، د مقاومت په موده کې د دې ډلو سره اړیکو ډېرې منفي پایلې نه درلودې. خو د نظام د جوړېدو وروسته څه داسې التزامات او مسؤولیتونه د نظام او دولت پر اوږو را بربوځي چې زړه به یې نه غواړي خو د نظام د ساتلو لپاره به اړین او ضروري وي، په دې اړه هم تشویشونه وجود لري چې ایا اسلامي امارت د دې ډول قضیو سره تر اوسه پورې د یوې مقاومتي ډلې په څېر تعامل کوي که د یو داسې نظام په توګه چې مسؤولیت منونکی دی، خپل نړېوال التزامات درک کوي او سر ته یې رسوي؟

دا قضیه بیا هم کورنۍ همغږۍ ته اړتیا لري چې د بهرنیو چارو وزارت په بهر کې د دې دریځ ترجماني کولی شي، خو د داسې سیاستونو خپلول بیا د اسلامي امارت د مشرتابه او د مؤثرو شخصیتونو مسؤولیت دی.

د دې ترڅنګ چې کومه بله قضیه د سیمې د هېوادونو او نړېوالو له لورې د تروریزم تر عنوان لاندې مطرح کېږي هغه د «داعش» قضیه ده، دا قضیه خو کله د یو شمېر نړیوالو ځواکونو له لورې د فشار د وسیلې په توګه استفاده کېږي، او کله هم د ګاونډیو هېوادونو له لورې د یو واقعیت په توګه مطرح کېږي، او د داسې ډلو د مهارولو په اړه د اسلامي امارت د هوډ په اړه پوښتنې راپورته کوي، او دا ځکه چې د داعش ګواښ او د دې ګواښ کنټرول ، همدا راز د دې ډول نورو سخت دریځو ډلو

مخنیوی د سیمې او نړۍ لپاره یوه مهمه او بنسټیزه موضوع ده، او ښه خبره دا ده چې د دې قضیې په اړه د اسلامي امارت په صف کې بشپړه همغږي وجود لري، دا قضیه باید یوه د هغو محوري قضیو له جملې څخه یوه وي او د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت دا باید په خپلو لومړیتوبونو کې ونیسي چې نړۍ او ګاونډیو ته ډاډ ورکړ شي چې اسلامي امارت دې ستونزې ته متوجه دی، او د دې ستونزې د حل توان په ځان کې لري، دا باید په قوت سره د نړۍ او سیمې هېوادونو سره مطرح کړی شي تر څو له دې پلوه د هېوادونو له لورې اسلامي امارت متضرر نه شي.د اوسنیو حالاتو لپاره د بهرني سیاست په لومړیتوبونو کې کېښودل شي، او د هغه کوښښونو یادونه وشي چې اسلامي امارت یې په دې لړ کې سرته رسوي.

**پنځم: د نړیوالی اجنډا نه درلودل**

هغه هېوادونه یا ډلې چې نړیواله اجنډا ولري عموما په نورو هېوادونو کې لاس وهنه خپل حق ګڼي، او له همدې امله په نورو هېوادونو کې خپلې هم فکره ډلې د هغه هېوادونو د امنیت د له منځه وړلو لپاره کاروي، لکه په مخکې وختونو کې شوروي اتحاد او کمونست ګوند چې په هر هېواد کې به یې د کارګرانو د انقلاب تر نامه لاندې ستونزې رامنځته کولی چې زموږ هېواد د همدې بدمرغۍ ښکار شو، او یا هم د ایران د دوی په اصطلاح اسلامي انقلاب چې په ټوله اسلامي نړۍ کې یې د همدې نړیوالې اجنډا (چې اهل تشیع د اسلامي امت د قیادت زیات حقدار دي چې تمثیل یې د ایران اسلامي جمهوریت کوي) تر نامه لاندې د جنګونو اورونه بل ساتلی دي، تر دې چې په هغه هېوادونو کې هم د خپلو اغیزو زیاتولو کوښښ چې هلته د اهل تشیع وجود اصلا نشته لکه مالیزیا، اندونیزیا او ګڼ شمېر افریقایي هېوادونه.

څه هېوادونه همداسې وېره د اسلامي امارت په اړه هم لري، په ځانګړې توګه کله چې څه داسې خلک په صفونو کې لیدل کېږي چې په نړۍ کې او ځانګړې توګه په اسلامي نړۍ کې د غربي ښکېلاک پر ضد د نړیوالې جبهې خبره کوي، نو دا تشویشونه نور هم تقویه کېږي موږ د خپلو بهرنیو اړیکو له لارې باید دې هېوادونو ته ډاډ ورکړو چې د افغانستان اسلامي امارت کومه نړیواله اجنډا نه لري، په اوسنیو حالاتو کې موږ که د خپل جنګ ځپلي هېواد په خپلو پښو د درول جوګه شو دا هم لویه خبره ده.

د دې تر څنګ کله کله څه اصطلاحات داسې معناګانې او اشارې د ځان سره لري چې په دې اړه نور هېوادونه په تشویش کې اچوي، او نړېوال او ګاونډیان داسې تصور کوي چې کېدلی شي دا به د کومې نړیوالې اجنډا برخه وي، د بیلګې په توګه د اسلامي امارت د زعامت نوم د دولت د رئیس، د رهبریت مقام، او داسې نورو څخه «امیر المؤمنین»[8] ته بدلول او یا د هېواد رسمي نوم د افغانستان د اسلامي دولت څخه د اسلامي امارت ته بدلول، دا ډول کلمات چې عملا کومه ګټه پرې نه مرتبېږي خو ستونزې رامنځته کوي، له دې امله که دا ممکن وي چې په دې اړه مقاصدي تفکیر وشي نو بهتره به وي.

همدا راز د بهرنیو چارو د وزارت دنده او مسؤولیت دی چې نړیوالو او سیمه ییزو هېوادونو ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت کومه داسې سیمه ییزه او یا نړیواله اجنډا نه لري، چې په هېوادونو کې حالات ګډوډ کړي او مسلح مقاومتونه تقویه

[8] - د امام الحرمین الجویني د عباراتو څخه هم همدا څرګندېږي چې هغه القاب چې د مسلمانانو د خلیفه او امام لپاره ځانګړې دي هغه وخت د یو چا لپاره باید استعمال شي چې ټول مسلمانان پرې راټول وي، امام الحرمین وایي: «وَلَكِنْ خَلَا الدَّهْرُ عَنْ إِمَامٍ فِي زَمَنِ فَتْرَةٍ، وَانْفَصَلَ شَطْرٌ مِنَ الْخِطَّةِ عَنْ شَطْرٍ، وَعَزَّ نَصْبُ إِمَامٍ وَاحِدٍ، يَشْمَلُ رَأْيُهُ الْبِلَادَ وَالْعِبَادَ، فَنُصِبَ أَمِيرٌ فِي أَحَدِ الشَّطْرَيْنِ لِلضَّرُورَةِ فِي هَذِهِ الصُّورَةِ، وَنُصِبَ أَمِيرٌ فِي الْقُطْرِ الْآخَرِ مَنْصُوبٌ، وَلَمْ يَقَعِ الْعَقْدُ الْوَاحِدُ عَلَى حُكْمِ الْعُمُومِ، إِذَا كَانَ يَتَأَتَّى ذَلِكَ، فَالْحَقُّ الْمُتَّبَعُ فِي ذَلِكَ أَنَّ وَاحِدًا مِنْهُمَا لَيْسَ إِمَامًا، إِذِ الْإِمَامُ هُوَ الْوَاحِدُ الَّذِي بِهِ ارْتِبَاطُ الْمُسْلِمِينَ أَجْمَعِينَ» «غياث الأمم في التياث الظلم» (ص177):

کړي، اسلامي امارت یوازې د افغانستان د رفاهیت او د یو کامیاب هېواد په حیث په خپلو پښو د درولو لپاره کار کوي، نه د هېوادونو د نیولو او په زوره د لاندې کولو کوم تصور ورسره شته او نه په هغه هېوادونو کې د اړو دوړ د جوړولو کوم پلان لري. که په دې اړه د اسلامي امارت له داخل څخه د بهرنیو چارو وزارت ملا وتړل شي او همکاري ورسره وشي دا تشویشونه به له بنسټه څخه له منځه ولاړ شي.

### شپږم: د نړیوالو سرحدونو لانجې

یوه بله قضیه چې د ګاونډیو هېوادونو سره د افغانستان د مثبتې ښکېلتیا زمینه برابروي او باید په اوس مهال کې باید په لومړیتوبونو کې ورته ځای ورکړ شي هغه د سرحدي ستونزو قضیه ده، دا خو څرګنده ده چې موږ یو لړ سرحدي ستونزې د یو شمېر ګاونډیو هېوادونو سره لرو، په تېرو کلونو کې دې ستونزو موږ د ډېرو کړاونو سره مخ کړي یو، همېشه دې هېوادونو د افغانستان د ضعف په حالت کې د خپلې خوښې حل د مسلط کولو کوښښ کړی دی، کوم سرحدونه چې لانجمن دي او اوس یې حل ممکن نه دی، لکه د ډیورنډ کرښه، همدا راز لکه د پنجده سیمه چې په ۱۸۸۲م کې روسانو نیولی ده د اوس لپاره د فشار د یوې وسیلې په توګه ترې استفاده وشي چې زموږ ګاونډیان د داسې اقداماتو څخه منع کړي چې د افغانستان استقرار ته زیان رسوي، خو په ورته مهال کې داسې مرحلې ته هم ونه رسېږي چې له دې اړخه بیا متضرر شو، او ګاونډیان په دې اړه د فشار د اچولو لپاره زموږ په داخلي امورو کې د لاسوهنو لپاره زړه ښه کړي.

### اوم: غیر قانوني هجرتونه

یو د هغه قضیو څخه چې نړۍ ورسره لاس او ګرېوان ده هغه د غیر قانوني هجرتونو قضیه ده، او ډېر هجرتونه په دې ورستیو وختونو کې د افغانستان څخه سرچینه نیسي، موږ په دې اړه مسؤولیتونه لرو چې د خپلو خلکو لپاره د کار او شغل فرصتونه برابر کړو، د ښه ژوند لپاره ورته امکانات برابر کړو، نور متضرر هېوادونه د دې اړتیا لري چې پر هغوی د غیر قانوني هجرتونو فشار راکم شي دا قضیه د بېلا بېلو هېوادونو سره د خبرو اترو او ګډو پروګرامونو د مطرح کولو یوه قضیه کېدلی شي چې د بهرنیو چارو وزارت یې باید په خپلو لومړیتوبونو کې ونیسي.

### اتم: د جنګي جرایمو او جنګي تاوان دوسیه

موږ دې ته اړتیا لرو چې د تېر شل کلن اشغال په جریان کې چې کوم جنګي جرایم د امریکا او د هغې د متحدینو له لورې په افغانستان کې سرته رسېدلي هغه په داسې ډول ډول ثبت شي چې په حقوقي لحاظ ترې وروسته استفاده وشي، د دې دوسیې جوړول د وخت اړتیا ده، که پخپله د بهرنیو چارو وزارت او یا بله کومه رسمي اداره دا کار د حالاتو د نزاکتونو له امله سرته نه شي رسولی کېدلی شي چې د خصوصي سکتور کومه تحصیلي اداره دا کار د یو ځانګړي میکانیزم له لارې سرته ورسوي، خو په دې شرط چې د بهرنیو چارو د وزارت په څبر یو اړخ یې تر شا ولاړ وي او حمایت یې وکړي، دا کار که په عاجله توګه سرته و نه رسېږي هغه اسناد او مدارک چې په حقوقي لحاظ ګټور واقع کېدلی شي له منځه ځي، که اوس ترې استفاده هم و نه کړی شي نو د فشار د واردولو لپاره به یو مهم سند په لاس کې ولرو، او که بالفرض هیڅ استفاده هم ترې و نه شي نو کېدلی شي چې وروسته د یو تاریخي سند په حیث نړیوالو سره شریک کړی شي او د استعماري قوتونو ظالمانه کړنې نړیوالو ته څرګندی کړی شي.

په اوس مهال کې د افغانستان بهرنی سیاست هغه وخت د کامیابۍ پوړونه سر کولی شي چې دا لومړیتوبونه په نظر کې ونیسي، هم په موخو او اهدافو کې لومړیتوبونه په نظر کې ولري، او هم د سیاسي اړیکو د رامنځته کولو اړوند لومړیتوبونه هم

په پام کې وساتل شي، او هم د نورو هېوادونو سره د اسلامي امارت د مثبتې ښکېلتیا اړوند لومړیتوبونه په نظر کې ولري، د دې ترڅنګ د بهرني سیاست د کامیابۍ بل شرط دا دی چې د هېواد د واقعیتونو څخه نمایندګي وکړي، په دې اړه د اسلامي امارت د مشرتابه، مسؤولینو او د بهرني سیاست د ترسیمونکو ترمنځ همغږي وجود ولري، د بهرنیو چارو وزارت د سیاستونو رامنځته کونکی ارګان او اړخ نه دی، دا یوازې د هغه څه نه د دفاع مسؤولیت پر غاړه لري چې د هېواد په دننه کې وجود لري، او د اسلامي امارت له لورې په هېواد کې پلی کېږي، د همدې سیاستونو پر بنسټ د نورو هېوادونو سره د اړیکو د جوړولو هڅې کوي، نو له دې امله د بهرنیو چارو وزارت د کامیابۍ بنسټیز لامل دا دی چې په کور دننه داسې واقعیتونه خپل کړو چې د نړیوالو لپاره ورسره تعامل ممکن وي، او دا هغه څه دي چې په بېلابېلو اړخونو کې یې د لومړیتوبونو تر عنوان لاندې یادونه وشوه، که دا کار و نه شي د بهرنیو اړیکو د جوړولو کار په ډېرې ستونزې په مخ کې ولري.